ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

# د باچا خان او نېلسن منډېلا تقابلي جائزه

Muhammad Sajid[1]
Fayaz Ur Rahman[2]
Dr. Mazhar Ahmad[3]

**Abstract:**

*Khan Abdul Ghafar khan (1890-1988) popularly known as Bacha khan was a pakhtoon nationalist leader. While Nalson Mandela (1918-2013) was nationalist leader of south Africa. Both the great leaders were the heads of political movements of the same nature in the same century. Bacha khan fought the British imperialism for the freedom of his nation and led his nation through Khudayi Khidmatgar movement and forced the occupying force to leave the subcontinent. Nelson Mandela forced the white skinned minority to transfer powers to black south Africans. Both the leaders spent more than 30 years in prison, but didn't back down from their motto.*

*In this paper we will present a comparative analysis of the two great leaders, so that it becomes clear which ones have uniformity in holding and which ones differ each other in which points*

تقابلي مطالعه د دوو لفظونو يو ترکيبي نمونه ده يعني ”تقابلي“ او ”مطالعه“ ـ تقابل د انګرېزي لفظ Comparison مترادف دے او Comparison د لاطينۍ ژبې د Compaction يا فرانسيسي لفظ Comparison نه اخذ کړے شوے دے-فرډينېنډبرونتېئر (Ferdinand Brunetiere) په کال ۱۹۰۰ء کښې وئيلي وو چې

”د تقابلي ادب د تاريخ نه مونږ د فرانس او جرمني د لويو او عظيمو ليکوالو د قامي صفاتو نه ځان خبرؤو -[1]

د ادبياتو پروفېسر اٰرترماش د تقابل ادب د اصل مفهوم په باره کښې ليکي چې: ”د ادب د اظهار پوره جائزه، د ادب تقابل کول، ادب په ډله بندۍ کښې تقسيمول، د دې اقسام جوړول، د هغې ادب د بنسټ پلټنه کول او پائلې راويستل د تقابلي ادب اهم کار دے“[2]

---

[1] MPhil research Scholor at department of Pashto University of Malakand.
[2] PhD Research Scholar, Department of Pashto, University of Malakand.
[3] Assistant Professor, Department of Pashto, University of Malakand.

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

د ادب د تقابل کولو تر ټولو غټه فائده دا ده چې په دې سره مونږ د يوې ژبې ادب يا د يو قام ثقافت اثر په بل ادب يا قام باندې ظاهرولے شو۔ د تقابلي ادب مطالعه يوه داسې علمي څانګه ده چې په کښې د ادب او ثقافتي مظاهرو او لسانياتو مطالعه کېږي-[3]

"د مختلفو ادبياتو د مطالعې نه مونږ دې نتيجې ته رسو چې مونږ د نورو ژبو په ادبياتو د خپلې ژبې د ادب اغېزې او مقاصد معلوم کړے شو۔"[4]

تقابل د دوو شخصياتو، څېزونو يا ادبي فن پارو په مينځ کښې هر قسم فرق او په يو بل پرېباسلے اثر ظاهروي- دغه شان په پښتو ادب کښې د اخون درويزه بابا او بايزيد انصاري او د تخليقاتو تقابلي مطالعې پښتو ادب ته ډېرې بخښنې ورکړې دي- تقابلي مطالعه تحقيق ته نوې لارې پرانيځي-

" د زياتو ادبونو، ژبو او ثقافتونو مطالعه صرف د تقابلي مطالعې په سوب ممکنه ده او هم د دې په ذريعه پا علم کښې اضافه کېدے شي او بيا هم دغه علم د ژوند په نورو شعبو کښې پکارولے شي-"[5]

دې ليک کښې مونږ د تېرې پېړۍ د دوؤ عظيمو شخصيونو او د هغوي د ژوند ليکونو يوه تقابلي جائزه وړاندې کوو، چې دواړو په کومو حالاتو کښې څۀ رنګ ژوند، جدوجهد، مبارزه اور بيا خپل ژوند ليک کړے دے۔

زمونږ د موضوع دغه لوړ قامته شخصيتونو باچا خان اود هغه ژوند ليک "زما ژوند او جدوجهد" او نېلسن منډېلا "لانګ والک ټو فريډم(Long walk o freedom)" دي۔

باچا خان:

د فخر افغان باچا خان د ژوند او شخصيت دومره لوړې مرتبې دي که څومره څۀ ورباندې وليکلے شي کم به وي۔ د هغوي علمي، ادبي، سياسي او اصلاحي خدمتونه د هيچا نه پټ نۀ دي۔ په موجوده وخت کښې کله چې ټوله نړۍ د جنګ جګړو، نفرتونو، تربګنو او د بارودو په بوي ککړه وه او د انساني تهذيب بقا په خطره کښې ده، نو دغه وخت کښې د باچاخان د عدم تشدد د فلسفې اهميت لا نور زيات دے۔ د باچا خان د فلسفې

ضرورت او د دې تبلیغ د موجوده وخت د ځوانانو دپاره د منشور په هېڅ د خپلولو ډېر ضرورت په دې موجوده حالاتو کښې دے۔

د هغه په ژوند او کار ډېر زیات لیکل شوي دي خو د بده مرغه یا د پښتنو نه په قصد پټ ساتلے شوي دي او یا ئې پښتانۀ لوستل نۀ غواړي۔ دې لیک کښې مونږ هڅۀ کوو چې د باچا خان د شخصیت د یو څو اړخونو لنډه شان جائزه واخلو چې د معاشرتي مصلح، ماهر تعلیم او سیاستدان په حېث هغۀ په کوم ځاے ولاړ دے او بیا ئې د بل عظیم شخصیت نېلس منډیلا د شخصیت د دغه اړخونو سره تقابلي جائزه واخلو چې څومره یو شان والے او څومره جدا والے لري۔

د هندوستان د تاریخ په جوړښت کښې د پښتونخوا یو ډېر مهم کردار دے، ددې اهمیت سرچینه د دې صوبې جغرافیائي اهمیت دے۔ په هندوستان چې هر څومره حملې شوي دي او هر څومره جنګیالي چې هندوستان ته راغلي دي هم په دې لاره تېر شوي دي او مخ په وړاندې تلي دي۔

د باچا خان ابتدائي ژوند:

خان عبدالغفار خان په ۱۸۹۰ء کښې د چارسدې په اتمانزو نومې کلي کښې د علاقې د یو لوے خان بهرام خان کره پیدا شو۔ دغه وخت په پښتنو کښې د لیک لوست رواج عام نۀ وۀ۔ نو ځکه د باچا خان پېدائش نېټه چا نۀ ده لیکلې خو د هغۀ د وینا مطابق هغه ته مور وئیلي وو کله ستا د مشر ورور ډاکټر خان صاحب وادۀ وۀ نو تۀ د یوولس کالو وې۔ د ډاکټر خان صېب وادۀ په کال ۱۹۰۱ء کښې شوے وۀ۔ نو په دغه حساب د هغه د پېدائش کال ۱۸۹۰ء ګڼلے شي۔[6]

دغه وخت د روایاتو او حالاتو مطابق عبدالغفار خان د کلي جمات ته د قرآن پاک د زده کړې دپاره ولېږلے شو، عام طور پښتانۀ د دین اسلام سره ډېره مینه لري، نو ځکه د قرآن په زده کړو د عبدالغفار خان په کور کښې ډېرې خوشحالۍ اوشوې۔ بله غټه خبره دا وه چې دې صوبه کښې انګرېزانو د سکولونو تعداد ډېر کم ساتلے وۀ نو عام ډول به زیاتو پښتنو زده کړې په جمات کښې کولې۔"د قرآن پاک د زده کړې وروستو عبدالغفار خان په میونسل بورډ هائي سکول پېښور کښې داخل شو او بیا د نور تعلیم دپاره پېښور اېډورډ میموریل مشن هائي سکول کښې داخله واغسته۔ دغلته هغه د هېډماسټر اي اېف ویګرام نه ډېر متاثره شو ، ځکه چې هغه یو ډېر خواخوږے او نرم خویه انسان وۀ"۔[7]

پروفېسر وقار علي شاه لیکي چې:

> د باراني کاکا ( د دوي خانداني نوکر) د فوج د قيصو په وجه د باچا خان توجه فوج طرف ته شوه او د کمېشن دپاره ئې درخواست ورکړو. درخواست منظور شو او باچا خان ته فوراً مردان چاوڼۍ کښې د حاضرۍ حکم شو. قدرت ته څۀ بل شان منظور وه نو هلته داسې واقعه پېښه شوه چې باچا خان خپله اراده بدله کړه او فوج ئې پرېښودو او د خپل قام د خدمت فېصله ئې وکړه.[8]

دغې نه وروستو باچا خان د تعليم دپاره اول کيمبل پور او بيا علي ګړهـ ته لاړو. په علي ګړهـ کښې ورته د پلار خط ميلاؤ شو چې تا زۀ د تعليم دپاره انګلستان ته لېږم. ټولې تيارۍ شوې وې خو مور اجازت نۀ ورکولو په وجه باچا خان پاتې شو. او دلته ئې د خپل قام د اصلاحو کولو په بېړه اوچتولو اراده وکړه.

د سماجي خدماتو سلسله عبدالغفار خان د يو ماهر تعليم په توګه شروع کړو. دغه کار دپاره هغوي د خپلې علاقې د يو مصلح حاجي ترنګزو سره په شريکه ملګرتيا کښې دوه تعليمي ادارې جوړې کړې. دې تعليمي ادارو کښې به طالب علمانو د ديني پوهې سره سره د قام پرستۍ جذبې هم بيدارولې کېدې. دې دوران کښې ځينې نور پښتانۀ عالمان لکه مولانا فضل راهي، مولانا تاج محمد، مولانا فضل محمود مخفي او مولانا عبدالعزيز هم د دوي ملګري شول.

> "ترنګزو حاجي صېب چونکې د انګرېز سامراج ډېر په ښکاره توګه د انګرېز سامراج ښکاره کولو مخالفت کولو او پښتانۀ ئې هم دې تيارول نو ځکه انګرېز سرکار د حاجي صېب د ګرفتارولو اراده وکړه خو حاجي صېب ته خبر وشو نو ځکه هغوي ۱۹۱۵ء کښې قبائلي علاقې ته لاړو. د خپل وفات پورې (۱۹۳۷ء) هم هلته وۀ. د هغوي دې هجرت نه پس حکومت د هغوي دغه مدرسې بندې کړې او دغه شان دغه تعليمي سلسله بنده شوه"[9]

په کال ۱۹۱۹ء کښې په هندوستان کښې ډېره هله ګوله جوړه شوه، د نړيوال جنګ په وجه معاشي حالات ډېر خراب شو. ډېره ګراني راغله او حکومت چې د دې خلقو سره کومې وعدې د جنګ د ګټلو په حالت کښې کړې وې هغۀ ئې پوره نۀ کړې، حکومت د انقلابي سرګرمو د ښودلو او مخ نيوي د پاره رولټ ايکټ نافذ کړو. قام پرستو دا ېکټ مسترد کړو او دې ته ئې غېر منصفانه او د ازادۍ د اصولو خلاف ايکټ ووئيلو. په شپږم اپرېل ۱۹۱۹ء کښې په ټول ملک کښې يو ډېر کامياب هړتال اوشو، صوبه سرحد کښې عبدالغفار خان ګرفتار کړے شو او داتمانزو په کلي دېرش زره روپۍ جرمانه ولګولې شوه. شپږ مياشتې پس عبدالغفار خان ازاد کړے

شو ۔ [10] د کال ۱۹۱۹ء په اخره کښې خلافت تحریک شروع شو ، مسلمانانو د ترک بادشاه خپل روحاني لارښود ګڼلو نو ځکه د ترکو سره د یکجهتۍ په توګه خلافت تحریک شروع شو ۔

> د تحریک د کامیابۍ دپاره مسلمانانو عالمانو هندوستان ته دارلحرب اووئیلو ۔ او دارالسلام (افغانستان) ته د هجرت کولو حکم اوشو ۔ په ګڼ شمېر کښې پښتانۀ سره د باچا خان افغانستان ته لاړل ۔ خو په ډېرو بدو حالاتو کښې واپس راستون شول او دغه شان دا تحریک ناکامه شو ۔ [11]

د هجرت د دې ډېرې بدې تجربې نه پس باچا خان فېصله وکړه چې پښتانۀ په سیاسي او معاشرتي توګه منظم کړي ۔ او د موجوده خرابیو اصلاط وکړي نو په دیر کښې ئې د فضل محمود مخفي سره په شریکه یو سکول پرانستو ۔ مقامي خلقو خپل ماشومان په ګڼ تعداد کښې سکول کښې داخل کړل خو انګرېزانو د دیر د نواب په ذریعه باچا خان او مخفي صېب د دیر نه راوویستل او سکول ئې ورله وران کړو ۔

باچا خان د خپلو انفرادي کوششونو نه نامېده شو، نو د خپلو هم خیاله ملګرو سره په مشوره ئې دا فېصله وکړه چې تعلیمي، معاشرتي او د خېرښېګړي کارونه په اجتماعي توګه شروع کړي ۔ د دې مقاصدو د حاصلولو دپاره د اپرېل په ورومبۍ نېټه کال ۱۹۲۱ء کښې د "انجمن اصلاح افاغنه" بنیاد ئې کېښودو ۔ باچا خان د دې انجمن صدر او میا احمد شا سېکرټري وټاکلې شول ۔ د تنظیم بنیادي مقصدونه د سماجي خرابیو ختمول، فضول خرچي، د پښتو ژبې او ادب ترقي او د اسلام سره رښتونې مینه پېدا کول وو ۔ "په دې غرض په لسم اپرېل ۱۹۲۱ء کښې په اتمانزو کښې ورومبے ازاد اسلامي سکول پرانستے شو او ډېر زر د دې څانګې په پوره پېښور وادۍ کښې قائمې شوې ۔ دې ادارو کښې به قرآني تعلیمات، حدیث، فقه، اسلامي تاریخ، ریاضي، انګرېزي وغېره ښودلے کېدل" ۔ [12]

باچا خان بابا په خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې لیکي چې:

> "په کال ۱۹۲۱ء کښې باچا خان د خلافت کمېټۍ صدر وټاکلے شو او هغه د ټولې صوبې طوفاني دورې وکړې او خلقو له ئې دعوت ورکړو او په دې خبره ئې ډېر زور ورکړو چې د پېرنګي حکومت او قبضې نه په هر حال کښې ملک ازادول دي ۔ دا خبرې د برطانیې د حکومت دپاره د خطرې وې ځکه په اتلسم دسمبر ۱۹۲۱ء کښې باچا خان ګرفتار کړے شو او درې کاله قېد یا مشقت سزا ورته واؤرولے شوه ۔ دې دوران کښې هغوي د تنهایۍ قېد هم تېر کړے او په

لاسو پښتو کښې ورته زنځیرونه هم اچولے شوي دي، لوږې تندې او وهل ټکول د دې نه علاوه وو"-[13]

په کال ۱۹۲۵ء باچا خان د قېد نه خلاص کړے شو ، پښتنو ډېر په جوش د هغه استقبال وکړو، هغه بیا د صوبې دوره شروع کړه په کال ۱۹۲۶ء کښې هغهٔ د خپلې کورودانېې سره حج له لاړو - د حج ادا کولو نه پس فلسطین، عراق او نورو اسلامي ملکونو ته لاړو - په کال ۱۹۲۸ء د مئ په میاشت ئې د پښتون نومې رسال اشاعت شروع کړو چې پښتنائهٔ د خپلې ژبې سره مینه ولري او ازادۍ د تحریک نه پښتون مبارزې نه په خپله ژبه کښې خبر شي- دا رساله وخت په وخت حکومت بندوله خو بیا به دوباره شروع شوه-

د کال ۱۹۲۸ء په اخره کښې د خدائي خدمتګار تنظیم بنیاد کېښودے شو، د دې تنظیم کار په پښتنو کښې سیاسي شعور، نظم وضبط، د بدو رسمونو خاتمه وه- د تنظیم غړو به د خدائے د مخلوق خدمت د خدائے د رضا دپاره کولو، عدم تشدد د دې تنظیم غټ منشور وهٔ-

جے ایس برائېټ لیکي چې:

" خان عبدالغفار خان د عدم تشدد نظریات د ګاندهي جي نه نهٔ وو اخستي- د هغهٔ د مینې فلسفه د قرآني مطالعې اثر وهٔ- د ګاندهي جي نه باچاخان د روحانیت په اوچته درجه وهٔ- باچا خان اسمان ته ورسېدهٔ او ګاندهي لا اوس هم په زمکه دے- باچا خان د شیلي غونډې د اسمان نه زمکې ته راکوز شوے دے او ګاندهي د کېټس غونډې د زمکې نه اسمان طرف ته روان دے -[14]"

په مارچ ۱۹۳۰ء کښې د سول نافرمانۍ تحریک شروع شو، دغه کال قیصه خوانۍ بازار کښې په پرامن جلوس حکومت ډزې وکړې او په سوونو شهیدان کړے شول- کله چې ۲۰ فرورۍ ۱۹۴۸ء برطانوي حکومت هند له د ازادۍ ورکولو فېصله وکړه نو په ۳ جون ۱۹۴۷ء کښې ئې د اقتدار د انتقال منصوبه وړاندې کړه- په منصوبه کښې صوبه سرحد ته اختیار ورکړے شو چې دوي په خپله خوښه پاکستان یا هندوستان سره شامل شي-

په ۱۴ اګست ۱۹۴۷ء کښې پاکستان جوړ شو - د خدائي خدمتګارو د مرضۍ خلاف صوبه سرحد د پاکستان حصه جوړه کړے شوه، خو بیا هم خدائي خدمتګارانو په ۴/۳ ستمبر ۱۹۴۷ء په سردریاب کښې په خپله غونډه کښې د پاکستان سره د وفادارۍ سوګند پورته کړو- باچا خان په ۲۳فروري ۱۹۴۸ء د ملک په

قانون سازه اسمبلۍ کښې د ملک سره د وفادارۍ سوګند پورته کړو ـ قائداعظم په دې قدم ډېر خوشحاله شو، خو د مسلم لیګ اختیار مندو نۀ غوښتل چې د قائداعظم او باچا خان دې یو بل ته نزدې شي ـ باچا خان په ۱۵ جون د درې کالو دپاره قېد کړے شو او په خدائي خدمتګار تنظیم پابندي ولګولے شوه ـ درې کاله قېد نه پس بیا نور درې کاله قېد کړے شو او په ۱۹۵۴ء کښې ازاد کړے شو ـ دغه رنګ وخت په وخت په پاکستان کښې باچا خان بندي کېدۀ ـ په ستمبر ۱۹۶۴ء کښې هغۀ د علاج په غرض انګستان ته لاړو او واپس کابل ته راغے او د جلا وطنۍ ژوند ئې خپل کړو ـ

باچا خان په ۲۰ جنورۍ ۱۹۸۸ء کښې د دوه کم سالو په عمر کښې د یو سترې ژوند تېرولو نه وروستو وفات شو ـ

نېلسن منډېلا: (Long walk to freedom)

نېلسن روهیلا منډیلا په ۱۸ جولائي ۱۹۱۸ء کښې د جنوبي افریقې په ټرانکسي نومې علاقه کښې پېدا شوے دے، د پلار نوم ئې ګاډلاهنري وۀ ـ درې ودونه ئې کړي وو، ایولن ماس، وني منډېلا او ګراساماچل ئې د کور ودانو نومونه وو ـ منډېلا د جنوبي افریقې ورومبے منتخب صدر وۀ، جنوبي افرېقه د منډېلا د تحریک د کامیابېدو تروخته د نسلي امتیاز نۀ صرف مرکز وۀ بلکې په سرکاري توګه د نسلي امتیاز جدا قانون موجود وۀ ـ نېلسن منډېلا نۀ صرف د نسلي امیتاز د قانون سخت خلاف وۀ، بلکې ټول عمر ئې د دغې قانون خلاف سخته مبارزه کړې ده ـ دغه مبارزه کښې دې د افریقې نېشنل کانګرس د وسله والې ډلې مشر هم پاتې شوے دے ـ د دغه قانون خلاف په مبارزه کښې ئې تول عمر پوره پوره برخه اخستې ده، د ملک عدالتونو ورله په بېلابېلو الزامونو کښې د ککړ کېدو په نامه سخت قېدونه هم ورکړي دي ـ او په اتویشت کاله قېد ئې هم یوه مخه بندي کړے دے ـ په جذیره رابن کښې بندي وو ـ کله چې په ۱۱ فرورۍ ۱۹۹۰ء کښې د قېد نه خلاص شو نو د تشدد لار ئې پرېښوه او مذاکرات ئې شروع کړل ـ د نسلي امتیاز خلاف په تحریک نېلسن منډېلا ټولې دنیا وستائیلو ـ نېلسن منډېلا په کال ۱۹۹۴ء کښې د جنوبي افریقې صدر وټاکلے شو ـ

نوموړے په کال ۲۰۱۳ء کښې د دسمبر په پنځمه نېټه د دې فاني دنیا نه کوچ وکړو ـ

د باچا خان او نېلسن منډېلا شخصي تقابل:

یوشان والے:

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.6 No.4 , 2023

1. دواړه نوموړي د شلمې صدۍ لوے سیاسي مشران وو۔
2. دواړه پېدائشي طور د خپل وخت په ښو کورنو کښې پېدا شوي دي۔
3. دواړه مشرانو د یو نه زیات ودونه کړي وو۔
4. دواړو نومیالو د خپل وخت بې انصافه حاکمانو خلاف نۀ ستړې کېدونکې مبارزه کړې ده۔
5. دواړه شخصیتونو اوږدۀ قېدونه تېر کړي دي۔
6. نومیالو په خپلو تحریکونو کښې کامیابي تر لاسه کړې ده۔
7. دواړو ته د هندوستان لوے سېوال اعزاز "بهارت رتنه" ورکړے شوے دے۔
8. دواړو نوموړو خپل ژوند لیک کړے دے۔
9. دواړو نومیالو د نوي کالو نه ډېر ژوند موندلے وو۔
10. دواړو ته په خپل خپل وخت غدار وئیلے شوي دي۔
11. دواړو شخصیتونو د مهاتما ګاندي سره ښۀ تعلقات لرل۔
12. دواړو نوموړو ټول ژوند ډېر ساده او عملي تېر کړے دے۔
13. د دواړو تحریک قام پرست سیاست باندې اډانه وۀ۔
14. دواړو نضهت ګرو د وخت د جابر حکومت بر خلاف سول نافرمائي او عدم تعاون تحریکونه چلولي دي۔

جدا والے:

1. باچا خان خپل تحریک او مبارزه د بهرني طاقت خلاف کړې ده او منډېلا د ملک دننه د طاقت خلاف تحریک چلولے دے۔
2. منډېلا ته د تحریک په کامیابۍ د ملک واک اختیار مېلاؤ شو او باچا خان بیا د ملک دننه حکومت برخلاف وۀ او قېدونه ئې تېرول۔
3. نېلسن منډېلا د اخري وخته پورې د خپلې کورودانې سره ژوند تېر کړے او باچا خان د دوېم وادۀ نه روستو د کورودانې د مرګ نه روستو ژوند یواځې تېر کړے دے۔
4. دواړه شخصیتونه د هغې ناروغتیاګانو په وجه مړه دي کومې چې ورته په بند کښې لګېدلې وې۔
5. باچا خان دوه ځل د امن د نوبل انعام دپاره ټاکلے شوے دے خو انعام ورکړے شوے نۀ دے او منډېلا ته انعام ورکړے شوے دے۔
6. باچا خان خپل ټول تحریک او ژوند د عدم تشدد په فلسفه تېر کړے او نېلسن منډېلا خپل تحریک کښې د څۀ خاص وخت دپاره تشدد هم خپل کړے دے۔

7. باچا خان خپل ژوند لیک په مورنۍ ژبه لیکلے او منډېلا په سرکاري ژبه انګرېزۍ کښې لیکلے دے۔
8. په جېل خانه کښې د نېلسن منډېلا سره د مېډیا د ادارو خلقو لیدۀ کاتۀ ډېر وو ولې د باچاخان سره د مېډیا تعلق د نشت برابر وۀ۔

د دواړو کتابونو "زما ژوند او جدوجهد" او (Long walk to freedom) یو شان والے:

1. دواړه کتابونه د هیئت په لحاظ ژوند لیکونه دي۔
2. دواړو کتابونو کښې د سیاسي جدوجهد تذکره ډېره بشپړه ده۔
3. دواړه کتابونونه یو ډول د اهمیت وړ دي۔
4. د دواړو کتابونو نثر نوے او جدید نثر دے۔
5. د دواړو شهپارو مقصدیت یو شان دے۔
6. دواړه شهپارې خپلو قامونو له د تربیت ذریعې دي۔
7. دواړه کتابونه د انساني حقونو د ذکر نه ډکې دي۔
8. دواړه کتابونه د لیک لوست او تعلیم د اهمیت ذکر کوي۔
9. دواړو کتابونو کښې د خپله کار کولو او نورو له د خدمت پېغام ورکولو درس دے۔
10. دواړو لیکوالو د صبر او زغم پېغام ورکړے دے۔
11. د ازادۍ پېغام او د ازادۍ سره مینه د دواړو کتابونو تر ټولو لوے یو شان والے دے۔
12. دواړه کتابونه د ادب او مقصدیت نمونې دي۔
13. دواړو لیکوالو په دې خبره زور ورکړے دے چې مکمله کامیابي همېشه زیات زیار غواړي۔
14. دواړو کتابونو کښې دا پېغام پروت دے چې سر لښکر د ډېرو کړاوونو نه تېرېږي۔
15. دواړه فن پارې دا سبق ورکوي چې سر لښکر به همېشه د حالاتو ادراک کوي۔
16. دواړو کتابونو کښې دا پېغام ښکاره پروت دے چې د عمل او مسلسل کوشش نه بغېر محض په دعوو ځوک اوچت مقام نۀ شي موندلے۔
17. دواړه کتابونه دا درس ورکوي چې کوم کار په ډېر محنت سره اوشي نتېجه خامخا راوړي۔ خو اکثر په نزدې وخت کښې نتېجه په نظر نۀ راځي۔
18. دواړو ژوند لیکونو کښې واضحه پېغام دے چې هر یو لوے مقصد هله ترلاسه کېږي چې محنت کوونکي د لوړې حوصلې خاوندان وي۔
19. دواړه ژوند لیکونه په شاوخوا یوه زمانه کښې لیکلے شوي دي۔

د دواړو کتابونو توپیر:

1. زما ژوند او جدوجهد په مورنۍ ژبه پښتو کښې لیکلے شوے دے، او (Long walk to freedom) په سرکاري ژبه انګرېزۍ کښې.
2. "زما ژوند او جدوجهد" په اسانه او ساده ژبه کښې لیکلے شوے دے او د (Long walk to freedom) د لیک انداز د ناول غوندې دے.

حوالې

[1]: سوزن بسینٹ، تقابلی ادب، ایک تنقیدی جائزہ، مترجم توحید احمد، پورب اکادمی، اسلام آباد، ۵ ۲۰، ص،

[2]: ایضاً

[3]: انسائیکلوپیڈیا امریکانا آن لائن

[4]:J.S.Vill, Comparative Literature, its meaning and scope. V:8. N:2, janw 1939, P.P.165,168

[5]: stevn, totosy, Zepetenek, Comparative Literature, Theory, method, application , 1902, p.13

[6]باچا خان، زما ژوند او جدوجهد ، مخ ۳۶

[7]هم دغه اثر، مخ ۳۴

[8]باچا خان، وقار علي شان پروفېسر، مخ ۶

[9]هم دغه اثر، مخ ۸

[10]هم دغه اثر، مخ ۵۴

[11]باچا خان، زما ژوند او جدوجهد ، مخ ۳۶

[12]هم دغه اثر، مخ ۱۳

[13]هم دغه اثر

[14]هم دغه اثر، مخ ۲۵